# مطبوعاتي وینا

## د اروپایي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ماموریت

## ټینګار کوي چې د افغانانو د رایي ورکولو د حق درناوی دي وشي

کابل د اګسټ ۱۳: د اروپایي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې د ماموریت له پیل څخه شپږ اونۍ وروسته او د ولسمشریزو او ولایتي شورا ګانو د ټولټاکنو له ورځې څخه یوه اونۍ وړاندې، نوموړی ماموریت غواړي چې په دریو ټکیو ټینګار وکړي.

موږ د هغو زړه بوږنوونکو پېښو د پېښېدو په هکله چې د ټولټاکنو په پروسه پورې تړاو لري او همدارنګه د دولت ضد عناصرو لخوا د امنیتي ستونزو له را منځته کېدو څخه خواشیني څرګندوو چې تګ راتګ او د سیاسي غونډو جوړول یې محدود کړي دي. ددې خنډونو له شتون سره سره په ټولیز ډول ټاکنیز کمپاین په یوه ښه چاپېریال کې ترسره شو چې تاوده بحثونه یې شونې کړل.

کولای شو چې دغه نسبي ارامۍ تر یوه بریده داسې و انګیرو چې د افغانستان ډېری خلک له تشدد څخه ستومانه شوي دي او یوازې سوله او سوکالي غواړي. د سیاسي مناظرو پیاوړتیا هم په ښکاره ډول د افغانانو د هیلو څرګندويي کوي چې غواړي په ټولټاکنو او د خپل راتلونکي په جوړولو کې برخه واخلي. دا ټول، دا خبره نوره هم یقیني کوي چې ټولې هلې ځلې داسې ترسره شوې دي چې موږ ته د ټولټاکنو سمون او د داسې پایلو ډاډ راکوي چې د افغانانو سوکالي ترې څرګندیږي.

له همدې کبله موږ د ټولټاکنو د امنیت په موخه د هغو هلوځلو او لاسته راوړنو ستاینه کوو چې د افغاني چارواکیو او نړۍ والې ټولنې لخوا په ګډه ترسره شوې دي. موږ همدارنګه د هغو ګامونو درناوی کوو چې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د درغلیو د موندنې او د هغو د مخنیوي په لور پورته کړای شوي دي. د اروپایي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ماموریت به له نورو ملي او نړۍ والو څارونکیو سره اوږه په اوږه ددې کاري چوکاټ دننه د کړو وړو د ترسره کېدا او د هغوی د اغیزناکتوب څارنه وکړي.

موږ هیله لرو چې افغانان به د ټولټاکنو په ورځ ارام او سوله ییز چلند وکړي او په هغه موده کې چې د ټولټاکنو پایلې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا په رسمي ډول څرګندیږي له زغم څخه کار واخلي. موږ په ټولو نوماندانو او د هغوی په پلویانو ټینګار کوو چې له داسې کړو وړو څخه لاس واخلي چې د ټولټاکنو د پایلو ریښتینولي نا باوره کوي او داسې پایلې را منځته کوي چې د ټول هیواد په سوکالۍ اثر غورځولای شي.

د اروپایي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې ماموریت به د بشپړې خپلواکۍ او د بې پرې والي د خپل ژمنې په پام کې نیولو سره د ټولټاکنو د پاتې پړاو، د رایو ورکول، د رایو شمېرنه، د پایلو د ثبت او د شکایتونو او استیناف د پړاوونو څارنه وکړي او د ټولټاکنو له قوانیو او تګلارو څخه په هرې سترې سرغړونې باندې به نیوکه وکړي.

"فیلیپ موغیون، د اروپایي ټولنې د ټولټاکنو د څارنې د ماموریت مشر"

هیله ده چې د مطبوعاتي پوښتنو لپاره له لاندې کسانو سره اړیکه ټینګه کړئ!

سندرا کادوری:
د اړیکي شمېره: ۰۰۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۳
بریښنالیک: sandra.khadhouri@eueom-afghanistan.org

اګنیس دوکا:
د اړیکي شمېره: ۰۰۹۳(۰)۷۰۶۲۲۱۳۶۴
بریښنالیک: agnes.doka@eueom-afghanistan.org

ویب پاڼه: www.eueom-afghanistan.org